# ؛بېشکه چې الله جل جلاله غيرت کوي، او مؤمن غيرت کوي، او د الله -جل جلاله- غيرت دا دی چې يو څوک هغه څه وکړي چې الله تعالی پرې حرام کړي وي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: ؛بېشکه چې الله جل جلاله غيرت کوي، او مؤمن غيرت کوي، او د الله -جل جلاله- غيرت دا دی چې يو څوک هغه څه وکړي چې الله تعالی پرې حرام کړي وي«.
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبرورکوي چې الله جل جلاله غيرت کوي، غصه کيږي او بد ګڼي، لکه څرنګه چې مؤمن انسان غيرت کوي، غصه کيږي او يو څه بد ګڼي، او دا چې د الله جل جلاله د غيرت لامل دا دی چې مؤمن انسان له ناوړه کارونو څخه هغه څه وکړي چې الله جل جلاله پرې حرام کړي وي لکه: زنا، لواطت، غلا، شراب څښل او داسې نور بد کارونه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3354

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee